آصف بهاند

۲۰۲۴/۰۳/۲۱

# غړونه او غوړونه

د دې ټولو ستونزو په اړودوړ کې بیا په افغانستان کې نوی تعلمي کال پیل شو، خو ګورو یې چې د افغانستان د نوي نسل له زدکړو محرومول د نجونو د ښوونځیو د بندېدو، د ځوانو نجونو پرمخ د پوهنتون د زدکړې دروازې تړل او په ادارو کې د ښځمنو پرکار باندې بندیز؛ پر ټولو محروم کړای شوو ښځینه‌وو او د هغوی د کورنیو پر اوږو باندې درانه بارونه داسې پراته دي چې ټول ملت یې تربارلاندې زګېروي کوي. خلک د ترخه ژوندانه د ویرونو تر بارونو لاندې داسې ستړي دي چې همدا دونیا ورته دوزخ شوې ده او خلک مجبور دي چې و قهرېږي او د ښوونځیو تړلې دروازې پرانیزي. ما د نجونو د ښوونځیو د نه پرانستل کېدو غمیزه په نویو تورو سره داسې رسامي کړې ده:

## غړونه او غوړونه

ښوونځي کولپ دي

هېڅ نه خلاصېږي

نجوني ولاړې

ورته ژړېږي

غړونه کېږي

غوړونه نه شته

د خلاصولو غوښتنې کېږي

خلک شول ستړي

ور نه خلاصېږي

انسان نلېږي

انسان یې ناوري

نجونې ژړېږي

تعلیم یې پاتې

ژوند بربادېږي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مورږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

ټول ورته ګوري

راتلونکي څه ده؟

نرۍ لوړېږي

موږ ښکته درومو

ډېر خلک ژاړي

لږ پورې خاندي

ارام غږونو خو ځای ونه نيو

قهر به کېږي

ور به خلاصېږي

۲۰۲۴/۰۳/۲۱
هېدرسليف
ډنمارک





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ